①

# ادب

۱ ۱) لغوي او اصطلاحي معنی:

۱) ادب د انګریزي ژبې د لټریچر (Literature) د ترجمې په طور استعمالیږي

۲) لټریچر د لاطیني ژبې Litra نه وتلې دې چې معنی یې لیک کول دي

۳) اصطلاحي معنی یې اندازه ګول دي.

ادب څه ته وایي:

- ادب هغه خواږه سندره ده چې په ژوند کښې خوشحالي راولي.
- ادب نه څه عادي څیز دې چې مشاهده ئې وکړې شي او نه څه مسائیلي ګوا ټلي فارمولې ده.
- د ادب د ~~فراخت~~ فراختیاله کبله د ادب یو جامع ~~تا~~ تعریف په لنډو ټکو کښې چا نه دې کړې

← د ادب تعریف نشته. هرچا د خپل پوهې له کبله خپل خپل تعریف کړې دے.

**سینټ آګسټن** څه داسې وایي چې "که زمانه څوک تپوس اوکړي نو زه پرې نه پوهیږم او که څوک را نه تپوس نه کړي نو بیا پرې پوهیږم.

اصناف چې په ادب کښې شامل دي:

په ادب کښې ډرامه، ناول، او افسانه شامل دي.

## د ادب په باره کښې د پوهانو راې

۰۱ ډسکورس: "هغه معلومات چې د کتابونو نه حاصلیږي."

۰۲ ارنلډ: "ادب د انساني ژوند تفسیر دې".

۰۳ امرشن: "ادب د انسان هغه کوشش دې کوم کښې چې هغه د خپل غلطیو تلافي کوي"

۰۴ ارسطو: "ادب کښې منطقي رښتیا خو نه وي ولې ادبي صداقت پکښې وي"

۰۵ میاکن: قدرت چې انسان ته کوم دائمي څیزونه ورکړي دي دهغې څرګندونه لطیف ادب دې.

د پښتو لیکوالو دائي:

۱- عبدالحلیم اثر صیب: - "ادب د عربۍ په لغت کښې پوهې او د څه څیز د اندازې ساتلو په معنې کښې راغلې دې-"

۲- سحر یوسفزی: - (خپل کتاب "ادب څه ته وائي" کښې لیکلي یکي) چې "ادب د ادیب د خپل ځان یا جهان په حقله هغه اظهار دې چې پکښې د هغه محسوسات، جذبات او تخیل ګډ وي"-

## د ادب دائره:

۱- د ادب خپل خصوصیات دي او یو جدا علم دې-
۲- ټول لیکونه، کتابونه او وینالماني ادب نه وي-
۳) ادب هغه لیک ته وائیلې شي چې په ذوق اثر اوکړي-
۴) هغه کتابونه چې په کوم کښې د ه څه مرضونو علاجونه یا بل څه ساینسي دختیا بیان شوي وي بغیر د لیکوال د احساساتو نه نو هغه ادب نه وي-
۵) د هغه مثال تاریخي کتابونه هوم د ادب حقله نه وي-
۶) که چرته پکښې لیکوال خپل احساسات شامل کړي نو دا بیا د ادب په دائره کښې راځي-
۷) لنډه دا چې کومه په یو لیک کښې لیکوال خپل جذبات او محسوسات ګډ کړي نو دغه ادب دې-

## د ادب قسمونه:

د ادب قسمونه دي خو دلته به مونږ د ادب دوه قسمونه ذکر کړو-

⑥

### د ادب قسمونه

#### طبعي یا نفسي ادب

۱- اخلاقیات او ښیګړې پکښې راځي-
۲- هغه څیزونه چې الله تعالی د انسان په فطرت کښې اینبودي دي-
۳- مثال سخاوت- خیر خیګړه- ځوانمردي

#### درسي یا کسبي ادب

۱)- دې کښې هغه ادب راځي چې په زده کړه حاصلیږي-
۲)- د لیک او لوست سره حاصلیږي-
۳)- په دغه لیک لوست کښې د خپل مقصد ښکاره کولو چل مسمي زده کړي-

# پښتانه شاعران (ژوند او شاعري)

## ۱- خوشحال خان خټک

۱) - په پښتو ادب کښې خوشحال خان خټک د ټولو نه زیات مهم ګیر شخصیت دے -

۱۱) - ادیب هم وو - امیر هم وو - فقیر هم وو - د توري ډال سره ئې هم دوستي وه او چنګ او رباب سره ئې هم مینه وه.

۱۱۱) - په ۱۰۲۲ هجری کښې په اکوړه کښې د شهباز خان کوم چې د مغلو له طرفه ده خټکو خان وو په کور کښې پیدا شو -

۱۷) - ~~هم~~ خوشحال خان ته د ښکار ده شوق له وجې ډېل باقاعده سبق ورووستو یاتي شو -

۷) - د پلار د وفات نه پس منصب خوشحال خان خټک ته په میراث کښې یاتي سو -

۷۱) - د اورنګزیب په زمانه کښې بو صوبیدار د چا په وینا اورنګزیب د خوشحال نه بدګمانه کړو او هغه په حکم ئې خوشحال بندي کړو او هندوستان ته ئې ولیږلو - (پښتو او مغلو ~~حالات~~ تعلقات خراب شو)

۷۱۱) - خوشحال خان او د مغلو سره جنګ -

خوشحال د مغلو سره جنګونه جې حالات سازګاره نه شو نو

۷۱۱۱) ← دې حالاتو اورنګزیب مجبوره کړو حسن ابدال ته په راتلو -

پښتو کښې دولت وشیندلو - نفاق ئې اوکړلو -

۱x) د خوشحال خپل زوې بهرام خان هم د سردارۍ په طمع د خپل پلار خلاف شو -

⇐ د یوسفزو سره جنګونه د یوسفزو سره ئې هم ډیر جنګونه شوی دی

← دوست محمد خپل کتاب (خوشحال خان خټک) کښې دوه وجې بیانوي -

① خټک د یوسفزو علاقو ته ورننوتلي و

② مغلیه حکومت سره د یوسفزو مخالفت اور د خټکو ملګرتیا ~~وه~~ (چې مګه خوشحال خان وه)

⇐ لنډه دا چې دیارلسو کالو نه واخله تر اخیره پورې جنګونه کړي دی - اخر دا د تیراه په علاقه کښې د ډمبري په مقام په 20 فروری ۱۶۸۹ مطابق ۱۱۰۰ هجری کښې وفات شو -

## د خوشحال خان خټک د شاعرۍ سفر

← د ښاغلي دوست محمد خان کامل د وینا مطابق خوشحال خان د شلو کالو په عمر کښې شاعري شروع کړه

← هسې خو خوشحال خان د ډېرو کتابونو مصنف او مؤلف دی خو کلیات، دستار نامه، بازنامه او سوات نامه ئې ډېر مشهور دي

### د خوشحال خان د شاعرۍ بنګاره اړخونه




د خوشحال خان اخلاقي شاعري ← کوم کښې چې د اخلاقو ذکر شوې دي -

i - کا چې دروغ تر خولې او باسي کمه خوله ده .
چې رښتیا تر خولې او باسي خوله هغه ده -

*

ii - کا د هغه دارو که مرګ یکار مې نه دي
که علاج لره مې راشي مسیحا هم -

*

iii - کا که دي طمعه د مخلوق له دره پرې کړه
بادشاهي دي مبارک شه که ګدا ئې -

*

iv - کا چې د خلقو ښېګړې اهسې لري په زړه کښې
مبارک شه بادشاهي لري په زړه کښې -

*

v - کا که کوشش کا په اخلاص زه ئې ضامن یم
که کامران په خپل مراد نشي سمري -

نوټ ⟸ لنډه دا چې خوشحال خان د اخلاقیاتو په هر اړخ څه نه څه ویلي دي -

٥/

۲ د خوشحال خان خټک عشقیه شاعري

خوشحال بابا د عشقیه شاعرۍ لوئې خصوصیت دا دی چې د محبوب په ستائنه او د خپلې مینې په اظهار کښې خپل ځان نه غورزوي بلکه خپل لوړ او اوچت شخصیت څرګندوي -

١ - یا به سر د خپل ورمیږ په وینو رنګ کړم
یا به ښکل کړم د غه ستا شونډې ملوکې -

*

٢ - زه خوشحال کمزوري نه یم چې به دار کړم
په ښکاره غږې وهم چې خوله یې راکړه -

*

٣ - زه جدا له یاره خوب په شپه ونه کړم
هاغه مالګه مې په سترګو کښې دوړیږي -

*

٤ - د عاشق خاطر په مثل د نافې دی
که ګلوله پرې تیریږي نه زړیږي -

*

٥ - که ئې سر درومي له تنه لوز به نه شي
د خوشحال چې د خپل یار سره میثاق دی -

۳ د خوشحال خان رزمیه شاعري

د خوشحال بابا رزمیه شاعري د خپل قام سره مینه، حب الوطني - آزادي خوداري، میړاني او اسلامي رجحاناتو نه ډکه ده -

١ - هر چاره د پښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډیر ارمان

*

۲ - ؎ په جهان د ښنګيالي دي دا دوه کاره
یا به خوري ګلکرې یا به کامران شي -

*

۳ - ؎ لا په خوب ګڼې په لرزه پرپوځې له کټه
چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ دی
که په دا دور مې ګوري هغه زه یم
چې مې داغ په خاطر اېښې د اورنګ دی

*

۴ - نه به زما غوندې بل ښنګيالي راشي
نه به زما غوندې بل جنګيالي راشي
خټک لا پیریده په درس جهان ګڼې
عجب که هسې فرهنګيالي راشي

## رحمان بابا او د هغوي شاعري

← پیدائش ← ۱۰۴۲ هـ ← بهادر کلي پېښور -
← د پښتو هغه واحد شاعر دی چې مې نارینه، زنانه، زاهد
او ځوانان قول خوانې -
← ښاغلی دوست محمد خان په خپل کتاب "رحمان بابا" کښې وائي
چې د رحمان بابا د غزل ژبه عام طور ساده او صفا ده
روانه او سیځلي ده چې هغه خپل پاکیزه او لطیف
خیالات په ډیره ښائسته طريقه بیانوي

← خطاره اړخونه
① تصوف
② اخلاقیات او علمګیریت

## (١) د الله او د الله د رسول ص سره مینه

- د رحمان بابا شاعري کښې د تصوف رنګ د هرچا نه زيات غالب ښکاري.
- رحمان بابا د صوفیانو سردار دی د رسول ص د عاشقانو د سر تاج دی
- رېښتوني صوفي دی د الله او د هغه د رسول ص یو حقیقي عاشق دی

١- ع
زه بخپله په تا نه يم مئين شوی
ستا له لوري په ما شوي دا بلا

*

٢- ع
د مجاز په معشوقو کښې وفا نشته
ما هزار ځله وکتلي دي دا فال

*

٣- ع
عجب نه دی که دا درس جهان زما شي
چې بادشاه د درس جهان مې دي خوندلي.

*

٤- ع
هغه یار به زه د کومه خوا ته غواړم
چې شي هیڅ رته کښې کون و مکان نشته

*

٥- ع
زه عاشق یم سروکار مې دی د عشقه
نه خلیل، نه داود زی یم، نه مهمند

## (٢) اخلاقیات او عالمګیریت

١- ع
کوهي مه کنه د بل سړي په لار کښې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
کرد د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
ازغي مه کره په پښو کښې به دې خار شي

8

۲- " ادمیت خه په دولت نه دي رحمانه
بت که جوړ شي د سرو زرو انسان نه دي

*

۳- " بې عمل که کتاب کیږ دي په سر خه شو
ګویا اینې شي تر ښو لاندې کتاب دي

*

۴- " چې الله درسره مل نه وي رحمانه
که لښکري درسره وي یک تنها شې -

*

۵ " علم وکړې هیڅ عمل ورباندې نه کړې
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې

---

(3) عبدالحمید بابا (1075 - 1145) هجري -

← عبدالحمید بابا د پېښور نه اتهٔ میله لرې په ماړې په ته کښې
په ماشوګړ نومې کلي کښې زیږدلي دی - قبر ئې هم دغلته دي -
← د پښتو ادب دریم استاذ ګڼلي شي -
← د ډیر بلند تخیل او نازکي وینا په وجه ورته د پښتو ژبې
بیدل هم وائي -
← د رحمان بابا د وخت شاعر دی (Contemporary of Rehman Baba.)
← په فارسي او عربي باندې کافي عبور لرو -

←
←

① " ډیرو او ښکلو مې صورت له برمه پریوست
زړه په پیریوزې دا دیوال له ډیره نه -

*

② " که هزار زله په صبر او سکون شم
خو چې یار په سترګو اوینم مفتون شم

۳ - ، چې ئې سپک کېنې عاشقي لکه بېنه
هغه يلوکس له کوه قافه درون سکنه

*

۴ - ، چې د عشق په جهل ځان وژنې نا صحه!
کاشکې له ذه عبدالحميد هغه پښتون شم -

*

۵ - ، د له نازه کړی خوبان خبرې تښتي
که د لاډو په خوږو ئې لبان ننلي

*

چې دی نوم پوځوږو اورم سره لحيه شم
داسې هسې سوز راکښې پیدا کړه زما ربه

---

## ۴ - د علي خان ژوند او شاعري

د پيدائښ وخت او زائي ئې نه دي معلوم - د دې د ژوند
باره کښې د پوهانو دوه نظرئې دي -

د علي خان د ژوند باره کښې د پوهانو نظرئې

① اولنۍ نظريه

- واېي چې علي خان خټک و -
- د افضل خان ځوي، د اشرف خان نمسې او د خوشحال بابا کړواسې و.
- که د نظريه ښيک دی نو د ده کاظم خان شيدا ورور و.
- واېي چې د جبل ورور سيد الله سره د قام په مشرۍ جنګ اوکړو او هجرت ئې اوکړو -

دويمه نظريه

- بله ډله د واېي چې علي خان د هشتغر پيدا دی:
د سو شغرونو په وجه دغوه کړی

(چې يار له وينم دلي په هشتغر کښې
پښتو م به له وطنه پسې سر مخ)

۲/

۱ - «هشنغر شو ګمان د زلفو د دلبرو
ځکه لښته په ذا ملک دګان د مېنګو»

*

۲ - «زه د رېبې د رستنه وزخ ژاړم لکه پرخه
نه صبا خندان ګل واز ګرېوان د چا شي؟»

*

۳ - «چې سري شونډې سبز خط دې را په زړه کړم
سر تر پایه سره لمبه شم، شنه دوزه» ← شین دګه

*

۴ - «اننګي په بوسه سره زخمي شو
د اوو پېښو پېروې دې کړنه دې -»

*

۵ - «زړه به ستا غلبېل کړه علي احمده
چې مدام د تېرو عشقو ته سپر دې -»

---

# کاظم خان شیدا

کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی، د اشرف خان نمسی او د خوشحال بابا کړواسی دی. ← پیدایش ۱۱۳۵ هجري - وفات ۱۱۹۱ه

← نازک خیالی او په مضمونو صفاتو سره یې شاعري کړې ده.

← یوه خبره چې د شیدا کلام ته یې ګوته نیوالی شي هغه دا چې دې خپله شاعرۍ کښې د فارسي د لفظونو او ترکیبونو په زړه ورتیا سره استعمال کړی دی.

← مقبول ځکه نه دی چې ډیات وخت یې بحر تیر کړی دی. او بل دا چې شاعری د فارسي د تورو په استعمال سره د عام اولس دپاره مشکله ده.

۱۱

۱ - ۶ د شیدا نازک مضمون کوډن ته ګوري
دهلال رویت د اوسیاره شګور نه

*

۲ - ۶ لکه ابر په هیس وخت نه شي بینمه
هرساعت زما په سترګو کښې ژړا ده -

*

۳ - ۶ ستا چشمان چې په ادا سره بالا شي
نور بانه دي ګویا غشي په هوا شي -

*

۴ - ۶ ما ګاته ستا دراز قد نه ګالبدنه
د دستار په ژاړې مې سر پېربوت له ننه

# د نوي دور شاعران

## ① امیرحمزه خان شینواري (حمزه بابا)

← امیرحمزه خان شینواري د ملک میرباز خان په کور کښې په کال ۱۹۰۶ ع کښې په خیبرالجسج کښې زیږدلې وو -

← ابتدائي تعلیم خپله علاقه کښې او بیا پینځم نه پس اسلامیه کالجیت سکول کښې داخل شوي وو ــــ تعلیم ئې لسم کښې هم نیمګړې پرېښود -

← په کال ۱۹۳۰ ع کښې د سید عبدالستار چشتي نظامي نه لاس نیوی اوکړو او د تصوف دنیا کښې قدم کېښود -

فلسفه ⇐ وحدت الوجود د نظریې قائل دې -

← وفات ۱۹۶۷ ع

(۱) ځانګړه اړخونه :

① تصوف
② پښتونولي
③ غزل ګوئي / تغزل

اول اردو کښې شاعري کوله

د غزل استاذ

# د حمزه بابا د تصوف شاعري

۱ - ۶ راشه که ځان وینې اشنا د حمزه مخ اووینه
او نه دې بوره ته حجاب چې زه حمزه اووینم

*

۲ - ۶ ته چې ماته وائې چې ځانه زان قربان کړه
ځان د ځانه سنګه قربانیږي زه حیران یم

*

۳ - ۶ ما او یا که مخامخ کړې څه حاصل دې
اینه به ایینې ته مقابل کړه

*

۴ - ۶ معفه څوک دې چې به حق نه وائې زان نه
قصوار به درس جهان کښې یو منصور شو

تصوف کښې تو اعلی مقام دې چې دې ته سکر وبیلې شي - په دې مرحله کښې انسان د حق وینا شروع کړې - او د "انا لحق" اوچته کړې - حسین ابن منصور هم د چغه وهلي وه - او بیا په دار شو

*

۵ - ۶ ما په دو رو ننداره کولې و ماته
د کائنات په زړه کښې راز یمه زه -

# د حمزه بابا د پښتونولي شاعري

۱ - ۶ عشقه! نه خود بین یې ده پښتون یمه
ما نه ده ښودلې کوا ستر ګونه

*

۲ - ۶ حمزه! سفر که د حجاز وې نو هم
زه ده پښتون د قافلو سره ځم -

*

۳ - ۶ ما کوز ورته لیمه کړه زما سر نه ټیټیدو
شاید چې په الفت کښې هم افغان یاڼې کیدم

*

۴ - ۶ دا امید مې د پښتون اشنا نه نه وو -
چې میلمه ئې له حجرې تلی نهر دی -

۵ - ، وائي اعتبار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

③ د حمزه بابا غزل ګوئي / تغزل

← شاعرۍ کښې ټول اصناف چیمرلي دي خو د غزل چمن کښې د خپل فکر کوم ګلونه کرلي دي د بعضې مثال نشي موندې کیدې . ځکه خو ورته بابای غزل وئیلې کیږي - لکه وائي چې

← ۱ - ستا په انګو کښې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړمه

* ۲ - ، شو کیږي د خپل زړګون د پاسه خوند ما
خو د خوب د پیاره ستا زړګون پکار دي .

* ۳ - ، خلاصه به ستا په یو خندا شي اشنا
که افسانه مې د سلګو د که ده .

* ۴ - ، مینه مې پخه شوه اسویلي وي ګله ګله
څو چې شي لرګې په وچیدو لوګې ئې کم شي